شریعت

SHARIAT WEEKLY

اوونیز

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

پنځم کال دولسمه ګڼه پرله پسې (۲۹۹) یکشنبه د۲۰ ـ۱۴۲۰هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام (۷) د۱۳۷۸هـ ش کال د سلواغي (۲٤) د ۲۰۰۰ میلادي کال د فبروري (۱۳)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزګاري) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

محترم معاون رئیس الوزرأ طی ملاقات با مسئولین امارتی :

تاریخ پر افتخار جهاد مشعل درخشانی برای نسلهای آینده کشور است

محترم مولوی عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء ، قبل از ظهر دیروز در دفتر کار شان والی ولایت میدان وردک را غرض ملاقات پذیرفتند.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزراء به آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد : طی این ملاقات نخست محترم مولوی شمس الدین والی ولایت میدان وردک پیرامون اجراآت کار و فعالیت در آن ولایت گزارش داده غرض پیشبرد بهتر امور طالب هدایات گردید.

سپس محترم معاون رئیس الوزراء ، گزارش ارائه شده ، والی ولایت میدان وردک را مثبت ارزیابی نموده به منظور خدمت بهتر و بیشتر به مردم آن ولایت رهنمائی ها و هدایاتی لازم دادند.

طبق یک خبر دیگر محترم مولوی -عبدالکبیر معاون رئیس الوزراء ، ورئیس تنظیمه زون شرق قبل از ظهر دیروز در دفتر کارشان قوماندان جهادی و یکتن از متنفذین قوم احمدزی را غرض ملاقات پذیرفت .

در آغاز ملاقات محترم حاجی شیر خان که با مجاهدین خویش در خط اول جبهه ص ٤

طبق گزارشات منابع موثق از پنجشیر:

مداخلات بی شرمانه خارجیان در امور داخلی ما به شدت ادامه دارد

همین اکنون کارشناسان نظامی خارجی مصروف تربیه تفنگداران مسعود در پنجشیر اند

سازمان ملل متحد باید کمك های بشری را از طریق خود به مستحقین اصلی آن توزیع نماید

قرار گزارش منابع موثق از پنجشیر همین اکنون بیش از ۶۰۰ تن از تفنگداران مسعود تحت تربیه، نظامی کارشناسان خارجي قرارد اشته و پروگرام مذکور روز به روز وسعت کسب مینماید.

منبع می افزاید :که مسعود سر دسته شورای نظار طی چند ماه گذشته روابط خویش با بعضی از کشور های افغان دشمن را ازدیاد بخشیده و از آنها تقاضای مساعدتهای بیشتر در عرصه نظامی گردیده است که در این راستا گروهی از ماهرین نظامی یك کشور خارجی وارد پنجشیر گردیده و در منطقه دشتك پنجشیر به آموزش نظامی افراد مسعود پرداخته اند. فعالیت های علنی ص ٤

دخوست ښار دسرکونو دپخولو کار پیل شو

په هیواد کی دتولګټو تاسیساتو دبیا جوړونی او رغاونی په لړکی دخوست ولایت دمرکز د سرکونو د پخولو کار په دی وروستیو وختونکی دیوی غونډی په ترڅ کی پیل شو.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغی غونډه کی چی له همدی امله دخوست ولایت دبیلا بیلو امارتی ادارو دچارواکو عالمانو سپین ږیرو اوزیات شمیر خلکو په ګډون جوړه شوی وه دخوست والی محترم مولوی محمد شفیق محمدی دخوست ښار دعمرانی ٤ مخ

دامریکا او چین ترمنځ اړیکی بیا خړی پړی شوی

دامریکا دمتحده ایالاتو او چین دهیوادونو ترمنځ اړیکی بیا خړی پړی شویدی.

دنړیوالو خبری منابعو دخبر له مخی په واشنګتن کی د چین سفیر پرون د امریکا دمتحده ایالاتو دکرنی له وزیر سره له کتنی وروسته ټینګار وکړ چی د دوا رو هیوادونو ترمنځ دتیر کال له تجارتی موافقه ٤ مخ

امور حسابی و اداری ولایت کندز بررسی گردید

امور اداری و حسابی ادارات ولایت کندز اخیراً مورد بررسی قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد : محترم ملا آغا جان « معتصم » نماینده خاص مقام امارت اسلامی که اخیراً غرض بررسی امور اداری و عایداتی وارد ولایت کندز گردیده بود ضمن ملاقات با محترم ملا برادر آخند معاون لوی- ص ٤

دملګرو ملتو د سوداګری د پراختیا لسم نړیوال کنفرانس جوړ شو

دملګرو ملتو دسازمان دسوداګری او پراختیا لسم نړیوال کنفرانس پرون دتایلند هیواد په پایتخت بنکاک کی جوړ شو.

داقتصاد دنړیوال کیدو دبهیر څیرنه دنړیوال اقتصادی جوړښت دنواقصو پیژندنه او دراتلونکو پنځوسو کلونو لپاره دنړیوالی سودا ګری د راتلونکی تګلاری ټاکنه ددغه کنفرانس د اجندا په سرکی ځای لری. ٤ مخ

ده تن از مسافرین طیاره، ربوده شده وارد شهر هرات گردیدند

ده تن از مسافرین طیاره ربوده شده د-آریانا افغان هوایی شرکت که در مسکو آزاد شده بودند دیروز از طریق جمهوری ترکمنستان وارد شهر هرات گردیدند.

منبع مربوط ضمن اظهار این مطلب به آژانس اطلاعاتی باختر گفت :

ده تن دیگر از مسافرین طیاره ربوده شده متذکره که در میدان هوایی تا شکند آزاد گردیده بودند قبلاً از طریق بندر ترمز وارد کشور شده اند.

مسافرین آزاد شده از جمله مسافرین طیاره ربوده شده دآریانا افغان هوایی شرکت میباشند که توسط گروپی از تروریستان ربوده شده بود و بحران آن اخیراً به طور صلح آمیز در لندن پایان یافت مسافرین ص ٤

اسرائیلی الوتکو یو ځل بیا دلبنان په جنوب بمباری وکړی

داسرائیلو درژیم جنګی الوتکو پرون مازدیګر یو ځل بیا دلبنان جنوب بمباری کړ.

دنړیوالو خبری منابعو دخبر له مخی په دغو بریدونوکی دمنطقوی سیمه او په اصطلاح دامنیتی کمربند شاوخوا ساحی په توغندیو وویشتل شوی.

په عین حال کی دلبنان صدراعظم سلیم الحص دملګرو ملتو دسازمان له ٤ مخ

په لبنان باندی داسرائیلو دبمباریو پرخلاف :

دقاهری په سلګونو تنو محصلانو مظاهری وکړی

د قاهری پوهنتون په سلګونو تنو محصلانو پرون دلبنان په جنوب باندی داسرائیلو دصهیونیستی رژیم دوحشیانه بمباری پرخلاف داعتراض په توګه په مظاهرو لاس پوری کړ.

دمصر دشرق الاوسط ٤ مخ

د پاکستان مذهبی ګوندونو له حکومت نه د چیچنیا د رسمی پیژندنی غوښتنه وکړه

کراچی KPI: د پاکستان ټولو دینی تنظیمونو له حکومت نه په کلکه غوښتنه کړی چی ژر تر ژره دی د ص ٤

دارو پایی ټولنی لخوا :

په چیچن کی دجنګی جنایتونو دڅیړنی غوښتنه وشوه

داروپا ټولنی دچیچن په جمهوریت کی دروسانو دجنګی جنایتونو دڅیړنی غوښتنه کړیده .

په هغی وینا کی چی ددغی ټولنی لخوا خپره شویده ویل شویدی چی د راسیدلو ربوټونو له مخی برغلګرو روسی عسکرو دچیچن په جمهوریت کی څه ناځه اته دیرش تنه ملکی خلک په ډیر بد حالت سره شهیدان کړیدی.

دروسی اردو له خوا پرته په چیچن باندی خپلو هوایی او توپچی بریدونو ته دوام ورکړیدی.

په عین حال کی دچیچن جمهوریت او دهغه د ګاونډی انګوشتیا جمهوریت ترمنځ پوله ترلی اعلام شویده. ٤ مخ

نیرو های متجاوز روسیه با مقاومت سر سخت مجاهدین چیچنیایی روبرو شده اند

بگفته منابع خبری جهانی این مجاهدین که تعداد آن نزدیک به هشت هزار میرسد در مناطق کوهستانی جنوب گروژنی پایتخت چیچن در مقابل متجاوزین روسی سنگر گرفته اند. و اکنون سیطره آن به تمامی مناطق شرق، ارگون، وویدنو در حال گسترش است. از جانب دیگر پناهندگان مسلمان چیچنیایی که از گروژنی می آیند از فجایع و وحشی گری نیرو های متجاوز روسی صحبت میکنند.

آنها میگویند که نیرو های ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د آریانا افغان الوتکی ترور او دغو لوریو دوه مخیز سیاست

په آریانا افغان هوایی کرښی پوری اړوند یوه مسافر وړونکی ۷۲۷ دوله بوینګ الوتکه چی څو ورځی دمخه دیو شمیر تروریستانو په واسطه ترور شوی او لومړی تاشکند بیا قزاقستان او مسکو او له مسکو څخه دلندن ستین ستیل هوایی ډګر ته تښتول شوی وه د ذالقعدی دمیاشتی په څلورمه دپنجشنبی په ورځ دالوتکی تښتوونکو له خوا پرینښودل شوه او تروریستانو اودالوتکی سپرلیو ټولو ځانونه دلندن پولیسو ته په لاس ورکړیدی چی دنړیوالو خبری سرچینو دخبر له مخی ددی الوتکی (٦٥) تنو سپرلیو په لندن کی دسیاسی پناه غوښتنه کړیده .

دافغانستان اسلامی امارت دالوتکی تښتونی له هماغو لومړنیو شیبو څخه یو پریکنده او اصولی دریځ غوره کړیدی چی تر اوسه پوری هم په ۲ مخ

ګـــزارشي از بخش اطفال شفاخانه میوند

یکي از بخش هاي مهم و فعال شفاخانه میوند بخش اطفال مي باشد همین اکنون بخش اطفال شفاخانه میوند داراي سرویس هاي فعال چون اتاق مراقبت جدي، سرویس داخله،اسهالات سینه و بغل ، سرویس هاي سرخکان توبرکلوز و سۆ تغذي مي باشد.

قابل یاد آوري است که بخش اطفال شفاخانه میوند را موسسات خیریه چون حمایه از اطفال، «اکشن فیم» ، WFP و «مبداير» كمك مي نمايد . فعلاً در بخش اطفال شفاخانه میوند هفت داکتر و ۹ نرس اناث شب و روز در خدمت مریضان قرار دارند. خبرنگار هفته نامه شریعت از سرویس هاي مختلف بخش اطفال بازدید نموده و ضمناً با محترمه حکیمه سر همشیره سرویس مذکور مصاحبه، را انجام داده است که اینك خدمت شما عزیزان تقدیم میگردد :

محترمه حکیمه سر همشیره وارد اطفال در جواب پرسش خبرنگار ما که روزانه چقدر مریض مراجعه نموده و بیشتر کدام نوع مریضي در مریضان تان دیده میشود چنین گفتند : روزانه در حدود ۳۵-۴۰ مریض مراجعه مي نمایند که بیشتر مریضان ما را سرخکان ص ٤

انګلستان تصمیم نیولی دشمالی ایرلند حکومت وځنډوی

دشمالی ایرلند د سولی دخبرو له ماتی وروسته د انګلستان دولت تصمیم نیولی دی دشمالی ایرلند حکومت وځنډوی. دروبتر پیتر دخبری آژانس دخبر له مخی دشمالی ایرلند دبهرنیو چارو وزیر پیترما ندلسن پرون وویل لندن پتیلی ده له بی وسلی کولو سره دشمالی ایرلند دجمهوریت غوښتونکی اردو دمخالفت په علت دشمالی ایرلند پارلمان وځنډوی. ده ددغه اقدام علت دشمالی ایرلند دجمهوریت غوښتونکی اردو دکاتولیکی سازمان په بی وسلی کولو کی لږ پرمختګ بللی دی.

مسلمانانو خپلو کی سره اختلاف له پاره دامریکی او اسرائیلو نوی هڅی

بن KPI په جرمنی کی خپریدونکی یوی مجلی «زیرسپایجل» په خپلی وروستی ګڼه کی داسلامی هیواد ونو سره جنګولو دپاره دامریکی او یهودو دهر ځلو دنوی پیل په هکله یو ربوټ خپور کړی .چی ږکی دامریکی له خوا د کویت پرخلاف دعراق دلسونی او بیا په هماغه پلمه دعراق دبمه ټکولو او ګیر خبری هم شوی دی ، په ربوټ کی ویل شوی چی دا ..س اوس یهودو له عراقی حکومت سره پټی اړیکی پیل کړی ، په دی هکله بی دامریکی خوښه هم اخیستی ده . داسرائیلو لومړی وزیر دامریکی ٤ مخ

په نیول شوی کشمیر کی هندی فوځیان بی زړه شوی

سرینګر KMS د هندی فوځ مشرانو داخبره منلی چی په نیول شوی کشمیر کی دمجاهدینو دوروستیو بریدونو له کبله پرهندی فوځیانو ویره اوبی زړه توب راغلی ، دسرینګر نه (٤٥) کیلومتره لری جنوب پلو په «کهنه بل » سیمه کی څیربالانو سره دخبرو پروخت دګروال دبیک په دی خبره اعتراف ٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد «فاروق»

دبوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری

پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

خپل هماغه اصولی او معقول دریځ ولاړ دی چی ددی معقول او بادرایته دریځ گتیه هم نړیوالو ولیدله ، الوتکه تښتوونکو به دېری غوښتنی درلودی چی دهغوی له جملی څخه یی بوازی داسماعیل خان دخوشی کولو غوښتنه مطبوعاتو ته وړاندی کړله . خو دافغانستان اسلامی امارت په زغرده اعلان وکړ چی دوی به له تروریستانو سره هیڅ ډول خبرواومذاکری ته نه کښینی او نه به دهغوی غوښتنی ومنی ځکه چی دتروریزم په وړاندی انعطاف او له تروریستانو سره نرمی اوسازش دتروریزم دتشویق او هڅونی لامل گرځی ، او د برطانیی حکومت ته یی وویل چی دوی باید له تروریستانو سره د الوتکی دترور دنړیوال قانون او دبرطانیی له خپل قانون سره سم چلند وکړی . چی دا دافغانستان داسلامی امارت دپریکنده تصمیم ، معقول او اصولی دریځ پایله ده چی تروریستان له هر څه څخه مأیوس شول ، خپلی غوښتنی یی پټی کړی او خبره دیته راورسیده چی خپل ځانونه په خپل لاس د برطانیی پولیسو ته سلیم کړی . نړیوالو به اوریدلی وی چی دېرو خبری آژانسونو ، کتونکو او سیاسی تحلیل کوونکو دافغانستان داسلامی امارت دا قاطع او پریکنده دریځ وستایه او دا یی له تروریزم سره یو ډول مبارزه وبلله .

اوس چی دالوتکی تښتونی پیښه څه ناڅه پای ته رسیدلی ده او تښتوونکو خپل ځانونه پولیسو ته تسلیم کړیدی نو دبرطانیی له حکومت څخه زموږ غوښتنه داده چی دوی هم باید د تروریستانو په وړاندی له هیڅ ډول نرمی او انعطاف څخه کار وانخلی او تروریستان باید دنړیوالو اصولو له مخی دمحاکمی میزته راکش کړی د «لاهه» د ۱۹۷۱ م کال دنړیوال کنوانسیون له مخی دبرچی ، توپک یا دهر ډول تهدیداوزور پواسطه دالوتکی عمله الوتنی ته هڅول یابل خواته تښتول جرم گڼل شوی او مجرم باید دخپل جرم دسزا دلیدلو لپاره دمحکمی میزته راکش کړل شی او دا هم څرگند حقیقت دی چی له مجرم سره نرمی او په مجرم زړه سوی په خپله دجرمونو دگراف دلوړ والی لامل گرځی نو په کار ده چی دتروریزم دغندلو او محکومولو او دجرمونو دمخنیوی لپاره هم **برطانوی مقامات نه یوازی دا چی دی تروریستانو ته سیاسی پنا ورنکړی بلکه سخته سزا هم ورکړی.**

که تروریستان دعوه کوی چی دوی په افغانستان کی سیاسی مشکلات درلودل او برطانیه باید سیاسی پنا ورکړی نو پوښتنه داده چی که دوی په ریښتیا هم تردی دمخه په افغانستان کی سیاسی ستونزی درلودلی نو څنگه ممکن وه چی په افغانستان کی آزاد گرځیدل راگرځیدل او چاورته غږ هم نه کاوه ؟ او که فرض کړو چی دوی دلته په ریښتیا هم سیاسی ستونزی درلودلی نو آیا په یو هیواد کی دسیاسی پناه غوښتلو لپاره له دا ډول تروریستی حربو څخه کار اخستل منطقی او معقول کار دی ؟ ریښتیا خبره داده چی دا داسلامی امارت دمخالفینو یوه دسیسه وه چی داسلامی امارت دمعقول ، اصولی او **قاطع دریځ سره خنثی شوه او تروریستانو ته یی هم ددنیا او اخرت رسوایی ور په برخه شوه.**

یوه بله دیادونی وړ خبره داده چی د آریانا افغان الوتکی دترور او تښتولو پیښی یو ځل بیا ډېری دوه مخی څیری رسوا کړلی. امریکا ، ملگری ملتونه او ځنی نوری بکیلا کی حلقی او هیوادونه چی تل د تروریزم خلاف چیغی وهی او هر وخت یی دغندلو شعارونه ورکوی حتی دافغانستان په ځیر په یو مظلوم او جگړه ځپلی هیواد یی دتروریزم په پلمه توغندی هم واورول خو دالوتکی تښتونی په دی تروریستی عمل چپ پاتی شول چی داچپوالی او داکر غبرن عمل نه غندل په خپله ددی څرگندوی دی چی دوی په حقیقت کی له تروریزم سره نه بلکه له افغان مسلمان ولس سره دښمنی لری او دتروریزم پلمه هسی یوه وسله ده چی دوی یی دافغانانو په ضد په کار اچوی دتروریزم په وړاندی ددوی سکوت په ډاگه کړه چی دوی له افغانانو او په افغانستان کی له نافذ نظام سره سیاسی او نظر یاتی اختلاف لری او همدا لامل دی چی د ډبل ستنډرد پالیسی یی په کار واچوله که نه دوی به افغانستان په یوموهومی او خیالی اتهام باندی په کروزتوغندی ولی او اقتصادی بندیزونه به یری لگوي نو ډلوتکی تښتونی داتروریستی عمل خویی په کلکه باید غندلی وای او تروریستانو ته یی دسزا او محاکمی غوښتنه کړی وای.

روسان د تیري باداري په لیونیو خوبونو کي

نړدی پنځه میاشتی وشوی چی تیری کونکی روسان د چیچنیا د مسلمان ملت په خلاف خپلو وحشیانه حملاتو او بمباریو ته دوام ورکوی. ورروسته لدی چی د روسانو لخوا په دغو وحشیانو بریدونو پنځه میاشتی تیری شوی او روسان ونه توانیدل چی د دوی لخوا په ټاکل شوی وخت په خپل مقصد کی بریالی شی ځنو نړیوالو د بشری حقونو سازمانو او اروپایی ټولنی په مسکو کی د کرملین په چارواکو غږ وکړ چی هغوی دی له چیچنیایی مقاومت کونکو سره د سولی خبری پیل کړی او پوځی لاره دی پریږدی کنه د اروپایی ټولنی لخوا به اقتصادی بندیز وړباندی ولگیږی . د نړیوالو بشری حقوقو د سازمانونو او د اروپایی ټولنی دغه اقدام په دی خاطر نه دی چی گواکی هلته دی د بشر د حقوقو درناوی وشی بلکی هغوی په دی وېره کی دی چی که د کرملین چارواکی په چیچنیا کی له پوځی لاری بریالیتوب تر لاسه کړی جابی بیرته یی د تیری باداری خیال په سر کی وگرځی چی هغوی یو وخت په اروپا کی د وارسا د پکت په نوم هلته یو تشکیل درلود د اروپایی ټولنی دغه وېره هغه وخت لا زیاته شوه چی کله د ملگرو ملتونو سرمنشی کوفی عنان مسکو ته ولاړ او هلته یی د کرملین له اوسنی چارواکی پوتین سره په چیچنیا کی د پوځی عملیاتو په دریدو او د یوه سوله ایز حل په را منځ ته کیدو خبری وکړی خو هغو نتیجه ورنکړه کله چی کوفی عنان په خپل دی ماموریت کی ناکام شوله مسکو نه د تلو په مهال یی پوتین ته څرگنده کړه چی زما ددی راتگ او هلو ځلو لامل په گروزنی کی د غیر نظامی کسانو د خوندی پاتی کیدلو او د هغوی د انسانی حقونو د مراعاتولو و په هر صورت چی وی باید پوځی عملیات متوقف او دا ستونزه د خبرو له لاری حل شی.

خو پوتین د هغه ددی څرگندونو په ځواب کی بیا هم په پوځی حل لاری ټینگار وکړ او وبی ویل : روسیه د امنیت په شورا کی د ویټو حق لری موږ به هلته له دی حق نه په استفادی سره له ملگرو ملتونو نه وغواړو چی د مسکو په ضد دی زموږ د ارادی خلاف هیڅ کوم اقدام وکړی.

په هر صورت ، په چیچنیا باندی د روسانو پوځی یرغل که له یوی خوا چیچنیا په کنډواله بدله کړه او د زیاتی مرگ ژوبلی لامل شو خو له بلی خوا یی روسی پوځ ته هم درانه تلفات ورواړول او د کرملین واکداران یی له سختو پوځی او اقتصادی ستونزو سره مخامخ کړل سره له دی چی د روسی چارو کو لخوا د روسی ملت ته د هغو تلفاتو بشپړ شمیر چی روسی پوځ ته د

عبدالرحیم «ثاقب»

چیچنیایی مجاهدینو لخوا ور اوښتی نه دی ښودل شوی خو بیا هم ورځ په ورځ د روسی چارواکو د نظامی دریځ په اړه د ملت لخوا مخالفتونه را څرگندیږی چی د روسیی ملت دغه مخالفتونه او د اروپایی ټولنی اقتصادی بندیزونه دواړه هغه څه دی چی د روسیی اوسنی چارواکی هغه له نظره نشوای غورځولای او په حقیقت کی دغه دواړه په روسیه کی د سری جگړی په بیا راتوبیدو کی ښه موثر واقع کیدای شی. د روسی ملت داخلی نارضایت او د اروپایی ټولنی د اقتصادی بندیز گواښ دواړه هغه کاری ضربی دی چی ښایی د روسی په راتلونکو انتخاباتو کی د سیاسی زعامت د بدلیدو لامل وگرځی .

ظاهراً ملگری ملتونه هم د چیچنیا د ستونزی لپاره د یوه سوله ایز حل غوښتونکی دی او هغوی د اروپایی ټولنی ددغه اقتصادی بندیز په شمول د هر هغه اقدام چی د جگړی د دریدو په اړه وی هر کلی کوی دا چی هغوی په دی غوښتنه کی تر کومی اندازی پوری خپلواکه دی معلومات به یی ښاغلی کوفی عنان ته وی.

په چیچنیا باندی د روسی ځواکونو یرغل د روسیی له نورو خپلواکو جمهوریتونو سره هم ددی وېره پیدا کړی چی که روسان په چیچنیا کی بری تر لاسه کړی ښایی په هغوی هم بیرته خیټه واچوی له همدی امله دغه نوی خپلواکه جمهوریتونه هم د روسیی چارواکو د پوځی دریځ خلاف دی. د کرملین د چارواکو په خلاف د روسیی د ملت او نوبو خپلواکه شویو جمهوریتونو نارضایت او د اروپایی ټولنی د اقتصادی بندیزونو گواښ ټول هغه څه دی چی روسیه له داخلی سری جگړی نه نړیوال ډگر ته را وباسی.

که څه هم د کرملین له واکدارانو سره دا خیال بیا پیدا شوی چی باید هغوی بیرته په نړی کی د امریکا د سیالی ویاړ تر لاسه کړی . همدا لامل دی چی د سپینی مانۍ واکداران له مسکو سره د چیچن د مجاهدینو په خلاف بشپړ اقتصادی او سیاسی مرستی کوی.

د سپینی مانۍ د واکدارانو له دغو مرستو څخه دوه مقصده دی. لومړی دا چی د مسکو د رهبرانو په وسیله له خپل ټولو هغو مسلمانو رقیبانو څخه چی په منځنی اسیا کی د امریکا د گټو په خلاف کار کوی ځان خلاص کړی او دوهم دا چی په عین حال کی مسکو هم له هغوی سره د جنگ په حال کی اخته وساتی تر څو یی جنگی ماشین کمزوری او په سر کی یی له امریکا سره د ډغری وهلو توان پاتی نشی.

ناله های زنان کشمیر و بی اعتنایی جهانیان

غازی خیل

به حواله تاریخ می گویند که زن مسلمانی در زمان حکومت سلطان عبدالحمید خلیفه عثمانی از جانب رومیان مورد تشدد قرار گرفت ، زن مذکور در جریان آه و فغان خویش فریاد کشیده و گفته بود که ای سلطان عبدالحمید تو چگونه خلیفه مسلمانان هستی که در زمان قدرت تو زن مسلمانی مورد تاخت و تاز کفار قرار میگیرد و تو از حالش خبر نداری! گفته گفته این پیغام به سلطان می‌رسد ، سلطان از الم زیاد اشك می ریزد و غیرت ایمانی اش به جوش می آید فوراً سپاه را حکم آماده باش و حرکت میدهد تا بدان دیار رسیده و ظالمان را به جزای اعمال شان می رساند ، اما متأسفانه که ملت مسلمان کشمیر تحت اشغال هند خصوصاً هزاران تن از زنان با عفت آن سرزمین حتی مورد تجاوز جنسی و وحشیانه ترین مظالم قرار می گیرند اما هیچکس نه فریاد شان را می شنود و نه به فریاد شان می رسد ، نه حکام ممالك اسلامی نجات آنها را از فرایض دینی و عقیدوی شان می پندارند و نه به اصطلاح مدافعین حقوق بشر به ناله های آنان گوش داده و نه به آنها به چشم انسان می نگرند اگر چنین نمیبود این چگونه دفاع از حقوق بشر و حقوق زن است که از پنجاه سال بدینسو زنان مسلمان کشمیر از جانب درنده گان هندی مورد تجاوز قرار می گیرند اما تا امروز هیچ کدام اداره بین المللی و یا کشور جهان به اصطلاح مترقی دیده نشد تا در این رابطه اظهار دلسوزی نموده و مقامات متجاوز هندی را از این جنایت باز دارند .

مطابق یك احصائیه دقیق تا اواخر سال گذشته بیش از ۲٤ هزار تن از فرزندان حریت پسند کشمیر توسط نظامیان هندی به شهادت رسیده و هزاران تن دیگر مجروح گردیده اند اما با آن هم مسلمانان کشمیر با ایمان عالی و اراده خلل ناپذیر در راه استرداد و استقلال شان بر خلاف عساکر متجاوز به جهاد و مبارزه ادامه داده و همین اکنون نیز نهضت استقلال طلبی شان در بین طوفان خون و باروت بسوی افق طلایی آزادی به پیش میرود البته در این راستا مردان و جوانان کشمیری ... تنها نبوده بلکه زنان مؤمن آن سرزمین شهید پرور نیز در کنار برادران شان سنگر جهاد و مبارزه سیاسی علیه اشغالگران را گرم نگهداشته اند، آنها با قربانی جانهای شیرین شان سلسله قیام های ملی را بصورت علنی در شهر های کشمیر تداوم بخشیده و با نعره های مخالف با تجاوز اجانب مدعیان بشر دوستی و حقوق انسانی را به قضاوت طلبیده اند، زنان مجاهد کشمیری در راه تداوم جهاد شان شوهران، فرزندان شیرین برادران و غیره اقارب شان را به پیشواز عروس استقلال به قربانی حاضر ساخته اند آنها را ترغیب‌وتشویق نموده و جهاد در راه کسب استقلال را از فرایض زندگی شان بر شمرده اند، زنان مظلوم کشمیری با صبر و متانت بی مثال جنازه های خون آلود شوهران، برادران و فرزندان خویش را شجاعانه استقبال نموده و جنت فردوس را برایشان تبریك گفته اند و در بسا موارد چنین واقع شده که عساکر وحشی هند فرزند ، برادر و یا شوهر زنی را در پیش چشمان شان گلوله باران نموده و بدینگونه آنها را مورد تهدید قرار داده تا باقی اهل فامیل شانرا از اشتراك در جهاد مقدس علیه اشغالگران باز دارند اما زنان با همت کشمیری با دیدن این همه وحشت ها باز هم از آرمان مقدس شان دست بردار نشده و به تلاش های آزادیخواهانه شان ادامه داده اند، عساکر وحشی هند در برخورد با زنان با غیرت کشمیری از اعمال هیچنوع درنده خویی و وحشت دریغ نورزیده و آنها را مورد تجاوزات و مظالم گوناگون قرار داده اند قرار احصائیه هایی که از جانب جراید و مجلات آزاد هند به نشر رسیده از سال ۱۹۸۹ تا ۱۹۹۹ جمعاً ٦٦۱ تن از زنان با عفت کشمیری از جانب نظامیان اشغالگر هندی مورد تجاوز وحشیانه جنسی قرار گرفته ۱٦۳۲ تن از آنها در جریان تظاهرات خیابانی و حملات نیرو های متجاوز به قریه‌جات مورد لت و کوب شدید قرار گرفته و زخمی گردیده اند. ۱۲۳٦ تن زن آزاده کشمیر به زندانهای تاریك هند منتقل شده و برای سالهای متواتر زندانی گردیده اند و ۱۵٦۸ تن از آن پاکدامنان به درجه رفیع شهادت نایل گردیده اند و احصائیه دقیق شاید به مراتب بیشتر از فوق باشد زیرا واقعات متذکره فقط آنهایی است که اطلاع آن بدست وسایل ارتباط جمعی هندوستان رسیده است با توجه با این وحشت و درنده گی که از جانب عساکر وحشی هند در کشمیر اشغالی انجام پذیرفته و در طی آن عفت، عصمت و آزادی و حیات زنان مجاهد کشمیری توسط اشغالگران پامال شده ، جهانیان آزاد ، بشر-دوست، مدافع حقوق بشر حامیان حقوق زن و خصوصاً سران ممالك اسلامی و در مجموع همه امت اسلامی که تا حال از شنیدن ناله های مظلومانه و معصومانه زنان و دختران عفیف کشمیری خود را کنار زده اند باید در پرتو احساسات و عواطف اسلامی و بشر دوستی شان اگر واقعاً چیزی از این گوهر دارند بیش از این در برابر متجاوزین هندی خاموش و نظاره کننده نه نشسته و با تمام وسایل و امکانات در راه نجات ملت مسلمان کشمیر خصوصاً زنان و دختران مظلوم آن کشور دست به کار شده و در این راستا مسؤولیت های انسانی و اسلامی شان را اداء نمایند. زنانی چون هیلری کلنتن خانم البرایت ، ایما-بونینو و حامیان بین المللی شان که بنام دفاع از حقوق زن گوش های جهانیان را کر ساخته اند باید اندکی به سوی حالت زار زنان کشمیر نیز توجه نموده و از حقوق زندگی استقلال و عصمت شان دفاع نمایند خیلی بجا است تا آنها عوض آنکه بدون کدام دلیل امارت-اسلامی افغانستان را به اتهامات بی بنیاد گوناگون سزاوار تعزیرات اقتصادی محسوب نمایند به جانب حالت زار حقوق زن و حقوق بشر در کشمیر اشغالی ، چیچنیا، کوسووا فلسطین و غیره ممالك جهان نظر اندازی نموده اقلاً برای آنها حق حیات، عصمت و آزادي را کسب نمایند چه رسد به آن که ادعا نمایند تا به زنان جهان حق تعلیم ، کار، انتخابات و خود سری جنسی و جسمی طلب گردد.

په جنوبی کنګلیزه کی د ژویو پیدا ښت

واشنګتن : د امریکی «ساینس» نومی مجلی په وروستی ګڼه کی یو شمیر پوهانو ثرګنده کړی چی د جنوبی قطب د کنګل پاڼو لاندی یی ځینی ژوی موندلی، دوی زیاته کړی نوموری ژوی چی د کنګل مخ نه د ۳٦۰۰ مترو د ژوروالی نه رابهر کړی شوی دی، اوس تر کتنی او څیړنی لاندی دی ددغو پوهانو په اټکل د کنګل دا پاڼو نه د هغو اوبو نه جوړ دی چی کله کله د شاوخوا سمندر ګیو د ویلی کیدو نه وروسته په څپو څپو هلته رسیدلی دی او له همدی امله یی په داسی ځای کی د ژویو موجودیت ثرګند کړی چی نه خواړه شته او نه د لمر تودوخه .

اردن د اسلامی سپوږمکی په جوړښت کی مرسته کوی

عمان : الشرق الاوسط : د اردن حکومت پریکړه کړی چی هغی پانګی ته مرسته ورکړی، کومه چی د لومړنی اسلامی سپوږمکی د جوړولو لپاره راټولیږی، دی پروژی ته سعودی، مصر، متحده امارات، قطر، تونس، اردن او لبنان بسپنه ورکوی او دا ټکل تر مخه ټول لګښت یی پنځلس میلیونه ډالروته رسیږی، د نوموری سپوږمکی نه اصلی موخه د هجری سپوږمیږ کال د میاشتو د پیل په هکله سمی او دقیق معلومات را ټولول دی، تر څو په دی هکله ټولی ستونزی حل او د مسلمانانو د اخترونو او نورو مذهبی ورځو د یووالی لپاره لاره هواره کړی.

دریافت روش هاي مؤثر جهت درمان امراض دماغي

بررسي هاي انجام شده بر روي پروتين هاي توليدي بوسيلهء حشرات كه حامل انتقال وباء هستند احتمالاً منجر به يافتن روشهاي مؤثر درمان بيماري هاي مغزي مانند الزايمر يا فراموشي يا پاركنسون خواهد گرديد .

هفته نامه نيوسانتسيت چاپ لندن با اعلام اين مطلب نوشت اين پروتين باعث گشوده شدن موانع در رگهاي خوني مغز مي‌شود كه مي توان اميدوار بود كه در آينده با استفاده از اين روش در تداوي مريضي هاي مغزي ، رعشهء اندام و فراموشي خدمتي را انجام داد .

دریافت یک عامل حیران کننده سرطان

تحقیقات جدید نشان میدهد که بخار هاي حاصله از سرخ کردن مواد غذايي بخصوص گوشت سمی یا زهري بوده و استنشاق طويل المدت آن باعث سرطان ميشود.

علماء پس از تحقيق در باره روغن هاي مخصوص آشپزي با سرطان به افزايش موارد ابتلاء به سرطان ريه در بين زنان چينايي پي برده و از ميزان با رقم بلند مبتلايان در هانگ کانگ و چين متعجب شده اند.

ارتباط چربي هاي اشباع شده با سرطان از زمان هاي قبل شناخته شده است اما تحقيقات تا كنون در مورد خطر خوردن حربي متمركز بوده است نه استنشاق بخار هاي آن در هنگام آشپزي .

استفاده از ادويه جات نباتي خالي از خطر نيست

يكدسته از دكتوران غربي به مصرف كننده گان ادويه گياهي هشدار داده اند كه از مصرف بيجا و خود سرانه اين نوع دوا ها جداً اجتناب كنند فعاليت هاي انجام شده توسط اين دسته از داكتران در مركز طبي بين-المللي كولمبيا نشان ميدهد كه استفاده از دوا هاي گياهي بدون تجويز داكتر نهايت خطرناك است .

آنها اين هشدار را بر اساس راپور هاي منتشره در مطبوعات كه حكايت از كشته شدن صد ها نفر در اثر خوردن دوا هاي گياهي دارد، داده اند دوا هاي گياهي مانند دوا هاي كيمياوي داراي عوارض جانبي بسيار خطر ناكي اند و ممكن است استفاده از آن با كار برد ادويه كيماوي تداخل پيدا كند . داكتران مركزهاي امريكا و متخصصان ادويه سازي در مركز طبي بين المللي كولمبيا توضيح داده اند در صورتيكه يك مريض بدون اطلاح داكتر از هردو دواي كيمياوي و دواي گياهي استفاده كند با خطرات جدي روبرو خواهد شد.

آيا از علت پرخاشگري اطفال آگاه هستيد ؟

محققان مي گويند اطفال پرخاشگر ميزان توليد يك هورمون در بدن شان در مواقع ترس و يا اضطراب بسيار كم مي باشد. روز نامه نيويارك تايمز در يكي از شماره هاي اخيرش نوشته است كه داكتران شفاخانه پوهنتون شيگاكو عقيده دارند ممكن است افراد پرخاشگر ترس شان به دليل كمبود هورمون در بدن شان باشد. داكتر هيب مكلن مي گويد افرادي كه تهاجمي هستند در مواقع اضطراب واكنش غير عادي نسبت به افراد معمول نشان ميدهند . تحقيقات انجام شده نشان داده است در بيشتر زندانيان ميزان هورمون كورتيزون كه توسط مغز ترشح مي شود كمتر از افراد عادي بوده است .

د ژاولی ژوول تول کموی

رویټر : امریکی څیړنکو دا خبره ثابته کړی ده چی په ژاوله کی یی یوه ثرګنده ګټه موندلی ده او هغه د بدن د وزن کموالی دی، ددوی په اټکل که د ویښتیا په ټول مهال ژاوله وژوول شی ښایی په کال کی پنځه کیلو وزن را کم کړی په دی هکله یوه پلټونکی جیمس لیفین ویلی دی چی د اوو تنو زده کوونکو ژوندنی طاقت په هغه آله وڅیړل شو چی د جسمی تودوخی لګښت معلوموی او بیا ښکاره شوه چی ژاوله په ساعت کی د بدن ۵۸ کالوری کموی.

د ساینسی علومو اهمیت

فاروق

په دی کی شک نشته چی نوی بشری علوم چی د تجربی په بنسټ ولاړ دی، په څمکه کی د بنیادم د هغه خلافت سره ډیر ژور تړاو لری د کوم لپاره چی الله تعالی د بشریت پلار حضرت آدم «ع» پیدا کړی او د ټولو هغو شیانو په هکله یی پوهه ورکړی چی دده په چاپیریال کی شتون لری، لکه چی الله عزوجل فرمایلی : ژباړه «او آدم «ع» یی د هر شی په نومونو پوه کړ» مفسرینو ثرګندونه کړی چی الله تعالی حضرت آدم «ع» ته د ګرد پنځون په باره کی پوهه ورکړه، د هغوی نومونه او ځانګړتیاوی یی وروښودلی او ددغو ټولو شیانو په دنیاوی او اخروی ګټو یی خبر کړ او دا ځکه چی آدم «ع» خو په ځمکه کی د لوی خدای «ج» د خلافت لپاره ټاکل شوی و، نو خامخا به یی هغه ټول شیان پیژندل کوم چی د ځمکی پر مخ موجودیت لری، ددی لپاره چی په هغو واکمنی وکړی او مناسب کار تری واخیستلای شی او له دی پرته خو خلافت نیمګړی پاتی کیږی .

نو همدغه نومونه همدا موجوده شیان او ځانګړنی او اغیزی یی د ننني طبیعی علم د بحث او څیړنی توکی ګڼل کیږی، ځکه همدا طبیعی تجرباتی علوم دی چی د ټولو پیښو او ټولو موجوداتو لکه ژوی، شنیلی، نور بی ساشیان، آسمانی موجودات او د پیداښت له خصوصیاتو یی خبری کوی، نو له همدی کبله ویلای شو چی الله تعالی د بشر پلار ته کومه پوهه ورکړی وه، هماغه پوهه ده چی نن د طبیعی علومو یا ساینس په نامه یادیږی او بی شکه چی همدغی پوهنی د ولسونو په پرمختګ او په شاتګ کی لویه ونډه اخیستی ده او نن سبا چی څوک په دی پوهه کی پر مختللی نو د واکمنی، کمال او لوړتیا او چتو پوړونو ته رسیدلی او څوک چی په دی پوهنه کی وروسته پاتی شوی، غورځیدلی، شړیدلی او لتاړ شوی دی، او همدا لامل دی چی لوی خدای «ج» حضرت آدم «ع» په دی پوهه ونازاو او د لومړی ورځی نه یی د خپل چاپیریال د کائناتو نه د ګټی اخیستنی چل ورزده کړ او بیایی دا کیسه د یادښت په ډول بیان کړه چی مسلمانان تری بی پروانه شی او ښایی سمه پاملرنه ورته وکړی خو له بده مرغه له دی سره سره نن مسلمانانو پاملرنه ورته ونه کړه، ځان یی په ناپوهی کی واچاوه او دا خبره یی هیره تیره وګڼله، چی دا دی اوس ربړیږی، ځوریږی او راز راز ستونزی ګالی، نو ددی لپاره چی بیا د پرمختګ په لاره کی هغه څه لاس ته راوړو چی له ګوتو مو وتلی، خامخا به د نومړو علومو په لور ورګرځو تر څو په سمی مانا د ځمکی د خلافت ورتیا په ځان کی پیدا کړو او ثرګنده ده چی خلافت هغه وخت بشپړیدای شی چی مادی او روحی دواړه اړخونه وپالل شی او هغه امت به هیڅکله هم بریالی نه شی چی ددی دواړو څانګو تر منځ بیلتون کوی او دا هماغه سمه سبی لاره ده چی دین او دنیا دواړه پری جوړیدای شی او دینی ښوونی هم یوازی او یوازی د همدی خبری بلنه کوی او په همدی ډول ګروهنه کیدای شی چی د الله تعالی دین تر قیامته پوری دوام وکړای شی په دی ډول اوس دا نتیجه په لاس راځی چی په دینی ښوونو کی هیڅ کومه نیمګړتیا نشته، خو د مسلمانانو په هڅه او هاند پوری اړه لری، چی ښایی په دی هکله خپل وس چاروکړی، مخکی لاړ شی او د زمانی له غوښتنو سره سم عقل په کار واچوی او د نورو ولسونو سره یو ځای په مخ بیون وکړی ښکاره ده چی اسلام له ټولنی څخه وتل، ملنګی او په کارونو کی لټی نه خوښوی، بلکه د کار، هڅی او پرمختګ بلنه کوی او هم یی په لارښوونو کی هیڅ داسی کوم شی نشته چی په دی لاره کی ستونزی جوړی کړی.

د ځنو غلطو انګیرنوسمون :

په دی اړه ښایی هغه فکر سوچ وڅیړو چی د طبیعی علومو په هکله د زیاتره وګړو په مغزو کی ځای لری او هغه دا چی ان د یو شمیر پوهانو په اند نوموری علوم د کوم پاخه او بنیادی دلیل په بنسټ ځکه نه دی ولاړ چی تل په بدلون کی دی او نوی نوی خبری پکی را پیدا کیږی، د پخوانیو پوهانو زیاتره نظریات ناسم ګڼل کیږی او نوری زیاتونی، ورباندی کیږی نو له دی کبله تل نیمګړتیاوی پکی را وځی خو دا ګوت نیونه پر ځای نه ده، ځکه چی نوی خبری خو د پخوانیو نظریاتو د نور پر مختګ په هکله دی، نه د هغو د بشپړ بطلان په مانا، مطلب دا دی چی د بشر تجربی لاز یاتیږی او پر مخ ځی نوی نوی څیړنی او تازه ثرګندونی د نوموړو علومو په لور لا هم زیاتوی بل دا چی د ځینو په خیال دغه علوم یوازی په مادی اړخ زور اچوی دا هم یوه غلطه شبهه ده، ځکه نوموری علوم په حقیقت کی ټول هغه پټ رازونه او اسرار را سپړی چی لوی خدای د کائناتو په خپل ځانګړی ترون کی ایښی دی او دا ددی لپاره چی د الله عزوجل د لویی خدائی د ثرګندولو او ثابتولو لپاره ښه کلک او پاخه دلایل وګڼل شی، د الله یووالی وښیی او له قدرتونو څخه یی پرده پورته کړی همدارنګه دغه علوم کولای شی ټولی هغه پوچی فلسفی رد او ځواب کړی چی د زمانی په اوږدو کی د ځینو بی لارو وګړو له خوا په ولسونو کی منځ ته راغلی او خپری شوی دی.

د مادیت د انګیرنی سمون :

دا هم واقعیت دی چی ددغو علومو په تشریح کی ځینو ماده پرستانو خپل ځانګړی فکر ورګډ کړی، خو دا په اصل کی د هغوی خپل خیال دی نه د علم نتیجه، طبیعی علوم خو ټول په دلیل او تجربه ولاړ دی او د چا د ځانګړی سوچ هیڅ ځای پکی نشته، شیخ محمد متولی شعر اوی په دی هکله ډیره ښه ثرګندونه کړی، نوموری وایی : بشری علوم ټول په دوه برخو ویشل کیږی : یوه برخه یی هغه سوچه مادی پوهنه ده چی یوازی په تجربه ولاړه ده او د هیڅا د انګیرنی ځای پکی نشته یوازی له مادی خبری کوی او په کارخانو او څیړن ځایونو (لابراتوارونو) کی تجربی ورباندی کیږی او همدغه ډګر دی چی لوی خدای «ج» انسان ته پکی د عقل او سوچ مخه ورکړی ده او د هڅی هاند غوښتنه یی تری کړی ده، او دا وعده یی هم کړی ده چی په دی لړ کی به د خپل قدرت ډیری نښانی را ثرګندی او خلکو ته وښیی تر څو وپوهیږی چی الله «ج» د سترو قدرتونو څښتن او رښتینی واکمن دی او دوهمه برخه یی هغه ده چی د وګړو نظریات هم پکی ونډه لری او عملی تجربی نشی ورباندی پلی کیدای او دا هماغه فلسفی او سیاسی انګیرنی دی چی بیلی بیلی له یوه او بله فکره راوتلی دی، په کارخانو کی نه شی تجربه کیدای او دروغ او رښتیا یی په سترګو نه لیدل کیږی، په همدی برخه کی تل اختلافات او نانډری روانی او د یو بل سره په جګړه بوختی وی او دا مقابله به ان تر قیامته لا روانه او ځپانده وی څکه چی په دی کی د خلکو خپل خپل نظریات ننوتلای شی خو د طبیعی علومو آر او بنسټ هیڅکله هم په مادی یا روحی اړخونو پوری څه تړاو نه لری، دا خو یوازی د طبیعت او کائناتو هغه سوچه قوانین دی چی الله تعالی په ډیر دقیق ډول د پیداښت لپاره ټاکلی او ګرځولی دی ماده پرستان همدا حقایق را سپړی او بیا یی د خپل مادی فکر د ټینګښت لپاره کاروی چی دا شان خلک ګمان کوی دا حقایق او قوانین په رښتیا هم خالص مادی اړخ لری او د الله عزوجل د واکمنی او لاس درلودنی احتمال به نفی کوی له همدی ځایه ده چی په ناپیره ډول یی د مسلمانانو یو شمیر د منځنی پوهی خاوندان هم مخالفت پیل او له څیړنی لاس واخلی.

یو المانی فیلسوف وایی : « طبیعی یا ساینسی علوم په اصل کی هیڅکله هم مادی او یا روحی نه دی، خو زموږ د ځانی لید په بنسټ هم په دی اړخ او هم په دا بل اړخ پوری تپل کیدای شی، نو څنګه چی د لویدیځ ثقافت یو مخ مادی رنګ لری، دا حقایق او قوانین هم د خپل مزاج سره سم تعبیروی نو په دی بنا ویلای شو چی په اسلام کی د نویو طبیعی علومو سره څه ټکر نشته، اسلام یوازی د لویدیځ د خپل ځانی ثقافت او تربیوی چوکاټ سره مخالفت لری او له همدی کبله زموږ د تربیت په لیکو کی مسلمانان ددغو علومو پلټنه سرته نه شی رسولای .

پاتی لری

ذهنی ازموینه

درنو لوستونکو ! دا ځلي د تېري ګڼي پوښتني زموږ بوه تن همېشني لوستونکي محترم وروړ حمد الله په لاندي توګه راليږلي :

۱- د قرآن کریم د څلورمي ربعي آخرني سورت «الناس» سورت دي .

۲- د عبدالله ابن عباس کنیه نوم ابو العباس دي.

۳- د حضرت ابو ذر غفاري«رض» اصلي نوم جندب بن جنادة دي

٤- ابة الكرسي د البقري د سورت ۲۵۵ نمبر ابت دي.

- یثرب د مدیني منوري اولني نوم دي.

او دا هم ددي ګڼي پوښتني :

۱- په قرآن کریم کي څو ځلي د جنت نوم راغلي ؟

۲- په قرآن کریم کي څو ځلي د دوزخ «النار» نوم ذکر شوي ؟

۳- لومړني ښځه چي په اسلام مشرفه شوه څه نومېده؟

٤- لومړني بالغ نارینه چي په اسلام مشرف شو څوک وو؟

۵- تر ټولو اوږد ابت په قرآن کریم کي کوم آیت دي؟

گزارشي از بخش اطفال ...

اسهالات، سینه و بغل تشکیل میدهد ولي در این اواخر نسبت سرما از حمله مریضان مراجعه کننده فیصدي بیشتر مریضان و وفیات را امراض حاد تنفسي «سینه و بغل» تشکیل میدهد .

محترمه حکیمه در مورد امراض تنفسي و راه هاي وقـايوي آن چنین براي مادران محترم معلومات ارائه نمودند : امراض حاد تنفسي اطفال یکي از پرابلم عمده طبابت اطفال را مخصوصاً در فصل سرما و زمستان تشکیل میدهد که حتي سبب عمده مرگ و میر اطفال پائین تر از سن پنج ساله را بعد از اسهالات در ممالك عقب مانده و رو به انکشاف تشکیل میدهد . امراض حاد تنفسي اطفال میتواند به شکل یك سرفه و ریزش و یا سینه بغل و سینه بغل شدید و یا بسیار شدید ایجاد شود که خطر عمده و حیاتي در نزد اطفال پائین تر از سن دو- ماهگي تشکیل میدهد .

اعراض و علایم عمده امراض حاد تنفسي اطفال شامل سرفه، ریزش، تب زجرت تنفسي، کبودي و امتناع طفل از خوردن و چوشیدن میباشد. یك طفل مصاب ریزش و سرفه و یا سینه بغل میتواند در خانه تداوي شود اما اطفال مصاب سینه بغل شدید و بسیار شدید باید داخل بستر تداوي شوند. هرگاه تنفس اطفال زیاد گردد علامه مهم سینه بغل است اگر همراه با آن طفل زجرت تنفسي داشته باشد و حالت شعوري آن مختل شود یعني طفل خواب طبیعي نداشته بسیار ناآرام گنگس مي باشد علامه سینه بغل بسیار شدید میباشد. اطفال مصاب به سرفه و ریزش و سینه بغل در خانه با تطبیق ، چاي با عسل و غیره و همچنان پاك نگهداشتن بیني و گرم نگهداشتن میتوان تداوي کرد ، ایجاب گرفتن انتي بیوتیك نمي- کند اما مریضان سینه بغل شدید باید داخل بستر تداوي شوند.

در مورد وقایه امراض حاد تنفسي اطفال باید گفت که اگر چه وقایه آن بسیار مشکل است اما تغذي خوب، مراعات نمودن حفظ- الصحه تطبیق به موقع واکسین ها به طفل مقاومت و معافیت داده و از مصاب شدن مکرر انتانات حاد تنفسي جلوگیري کرده میتواند باید خاطر نشان ساخت که در جریان مریضي و بعد از مریضي تغذي بهتر به طفل حتمي است .

سلطانه رحیم

اسرائیلي الوتکو ...

سرمنشی کوفی عنان څخه وغوښتل چی دلبنان په جنوب باندی داسرائیلو ددغو وحشیانه بریدونو مخه ونیسی.

دسوریی دبهرنیو چارو وزیر فاروق الشرح هم پرون د انگلستان دبهرنیو چارو له وزیر رابین کوک سره دتیلفونی خبرو په ترڅ کی ټینګار وکړ چی د صهیونیستی رژیم د زور زیاتی سیاست به کومه نتیجه ورنه کړی.

دا په داسی حال کی دی چی داسرائیلو صدراعظم ایهودبارک پرون یوځل بیا ګواښ وکړ چی دلبنان په جنوب باندی خپلو وحشیانه یرغلونو ته دوام ورکړی.

دغه راز له لبنان نه خبر ترلاسه شویدی چی دلبنان دحزب الله دسازمان مبارزینو پرون داسرائیلو ددغو ظالمانه بمباریو په ځواب کی په نیول شوی سیمه کی د اسرائیلی یرغلګرو په یوه اډه باندی برید وکړ چی په نتیجه کی یی یو اسرائیلی عسکر ووژل شو او دوه تنه نور یی ټپیان شول.

دلبنان دحزب الله دسازمان مشر شیخ حسن نصر الله خبرداری ورکړی دی چی دیرغلګرو په خلاف به خپلو بریدونو ته دوام ورکړی او پری به نږدی چی اسرائیلی یرغلګر په لبنان کی خپلو ناوړو هدفونو ته ورسیږی.

نیرو هاي متجاوز روسیه ...

متجاوز روسی درصدد پاکسازی منطقه از باقی مانده باشنده گان چیچنی میباشند . بر علاوه آن نیرو های هوایی روسی و توپخانه، مواضع مجاهدین چیچن را که علیه نیرو های اشـغالگر روسی در دهات و کوهستانهای چیچن مبارزه می نمایند، تحت ضربات و بمباردمان وحشیانه قرار داده اند

د پاکستان مذهبي ...

چیچنیا حکومت په رسمیت وپیـژني. تیره ورځ په هغه میلمستیا کی چی د چیچنیا د **استاځی زلیم خه بندربی په ویاړ جوړه شوی ، د ټولو دینی تنظیمونو مشرانود قاضی حسین احمد د هغه وراندیز په یوه خوله ملاتړ وکړ، په کوم کی چی له حکومت نه د چیچنیا د** خپلواک دولت درسمی پیژندنی غوښتنه شوی وه، په دی غونډه کی د پاکستان مشر سیاست وال نوابزداه نصر الله خان، **پروفیسر غفور احمد او نعمت الله خان هم برخه اخیستی وه .**

تاریخ پر افتخار ...

شمالی مستقر میباشد ازمورال عالي روزمی و اجرای وظایف بموقع مجاهدین در آن منطقه اطمینان داده و گفت : مجاهدین اردوی اسلامی علاوه از اجرای وظایف محوله با مردم محل نیز همکاری همه جانبه داشته و شب و روز برای اجرای خدمت حاضر میباشند.

سپس محترم معاون رئیس الوزرا ، طی صحبت خویش گفت:جهاد بالای همه ما و شما فرض بوده و برما و شما لازم است که بمنظور تحقق احکام دین مبین اسلام و تحکیم نظام اسلامی و از بین بردن رنج والم مردم مسلمان افغانستان از هیچگونه سعی و تلاش دریغ نورزیم .

ایشان افزودند : تاریخ پر فتخار جهاد مشعل درخشانی برای نسلهای آینده کشور بوده و بمثابه بهترین مدرسه دانش و آموزش در تربیت سالم اسلامی شان نقش بزرگ و ارزشمندی دارد .

ده تن از مسافرین ...

متذکره در یکی از مهمانخانه های امارتی در شهر هرات جابجا شده اند ک قرار است به زودی به منازل شان انتقال داده شوند.

د خوست ښار ...

اوبیا رغاونی کارونو په باره کی خبری وکړی او ددغو سرکونو د قیر اچولو دکار دلازیات ګړندی کولو په لاره کی یی دچارواکو د لازیاتو همکاریو غوښتنه وکړ .

دخوست ښار دمرکز په سرکونو باندی داسلامی امارت له بودجی نه دخوست ښاروالی دچارواکو دهلو ځلو له امله دخوست ولایت د فوائد عامی ریاست، پرسونل لخوا قیر اچول کیږی .

امور حسابي ...

-درستیز و قوماندان قول اردوی مرکزی و محترم الحاج محمد عارف خن والی ولایت کندز امور اداری و حسابی آنولایت رامورد ارزیابی قرار داده جهت جمع آوری عواید مالیاتی و پیشبرد بهتر امور در آنولایت به مسئولین هدایات لازم داد .

په چیچین کي د جنګي ...

ددغی پولی په دواړو خوا وړکی مهاجرین په ډیر بدحالت کی شپی سبا کوی.

ددواړو لورو کـهوالو د روسی یرغلګرو دغه غیر انسانی اقدام په کلکه غندلی دی.

د امریکا او چین ...

لیک سره دامریکا دمتحده ایالاتو مخالفت کوونکی به د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکو ته سخت زیان ورسوی .

ددغه راز ټینګار وکړچی د تایوان په ازادی پوری له اړوندی لایحی سره د امریکا دمتحده ایالاتو موافقه کوونکی به د بیکنګ او واشنګتن ترمنځ داړیکو دراتلونکی لپاره ناوړه نتیجی ولری .

په نیول شوي کشمیر ...

وکړ چی دمجاهدینو له خوا په سیمه بیزو فوځی هډو دوروستیو بریدونو له امله په هندی فوځ کی خورازیاته ویره او اندیښنه راپیدا شوی او ډیر زیاتی شوی دی.

مداخلات بیشرمانه ...

ماهرین خارجي درداخل کشورما مبین واقعی مداخلات صریح اجنبیان در امورات داخلی کشورما بوده که باید سازمان ملل متحد وغیره مجامع بین المللی متوجه آن بوده و جهت پایان دادن به آتش جنگ در افغانستان جلو مداخلات خارجیان را درکشورما بگیرند، مسعود که از قبل آله دست بیگانگان بود اکنون نیز به اعمال ضد اسلامی و ضد افغانی خویش ادامه داده و به کمك حامیان خارجی خود به قتل و کشتار مردم بیگناه افغانستان ادامه میدهد.

منبع در اخیر علاوه میکند: که محموله های سلاح های مختلف النوع و تجهیزات نظامی نیز روزانه از آنسوی مرز داخل افغانستان گردیده وبه مسعود سپرده می شود و اکثراً نام آنرا کمکهای بشردوستانه قلمداد می نمایند سازمان ملل متحد باید دراین رابطه داخل اقدامات شده و مواد کمکی بشری را ازمنابع خارجی کسب نموده و بعد به مستحقین اصلی توزیع نماید تا بدینوسیله جلو تجاوزات ومداخلات خارجی در افغانستان گرفته شود.

. دملګرو ملتونو ...

په بنکاک کی دنړیوالی سوداګری په لسم کنفرانس کی دیو سلو اته اتیا غړو هیوادونو مشرانو ،صدراعظمانو ،او دنمایندګی هیاتونو ګډون کړی دی.

دوزیرانو په سطحه دنهه شپیتو هیوادونو استازو په دی کنفرانس کی برخه اخیستی ده.

ددغه کنفرانس په ترڅ کی پرون سهار داسیا دجنوب ختیځی ټولنی د غړو هیوادونو مشرانو ،دملګرو ملتو د سازمان د سرمنشی کوفی عنان په وړاندی غونډه وکړه ،چی په دی ترڅ کی دمهمو نړیوالو مسالو له دی جملی نه داقتصادی موضوع ګانو په باب غور وشو.

دملګرو ملتو د سازمان دسوداګری او پراختیا نړیوال کنفرانس به د راتلونکی شپی تر ورځی یعنی د اووه ورځو لپاره دوام وکړی.

دقاهری په سلګونو ...

ورځپاڼی دخبر له مخی مصری محصلانو په دغو مظاهرو کی داسرائیلو د صهیونیستی رژیم او دا مریکا دمتحده ایالاتو پرخلاف شعار ورکاوه .

امنیتی پوځونو له مظاهره کوونکو سره نښته وکړه او هلی ځلی یی وکړی چی د پوهنتون له انګړنه دمحصلانو د تلو مخه ونیسی.

دمسلمانانو خپلو ...

مشر سره په خپل وروستی کتنه کی هغه ته ځرګنده کړی چی ښایی له عراق سره په اړیکو ټینګولو وکولای شو هغه یوځل بیا دایران پرخلاف راوپارول شی او دا چی له اسرائیلو سره دایران له پلوه خورا ډیری اندیښنی پیداشوی ، هغه له دی کبله چی ایران په منځنی ختیځ کی دامریکی بهودوګډو مو خو په لاره کی لوی خنډګر ګڼډلای شی، له بلی خوا د ذروی وسلو لاس ته راوړلو د پاره دایران نوی هڅی ددی خبری لاښه پخلی کوی.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	R$200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

ایا رښتیا ده چی وایی ، اسلامی کانفرانس وفات شوی دی؟

له ډېره وخته مسلمانان په غمجنو اسلامی پیښو کی په دغه کانفرانس پسی چیغی ناری وهی خو هیڅ غږ غوږ یی نشته ، نو ځکه په لارو کوڅو کی اوازه ده چی اسلامی کانفرانس وفات شوی دی!

که داسی وی نو انا لله...

له دی امله استرجاع کوو او (انا لله ...) وایو چی دغی غونډی ته خو د نړی د مسلمانانو ډیر امیدونه وو او ډیری هیلی یی ورپوری تړلی وی له بد مرغه یی هغه ټولی هیلی نهیلی شوی ! د ملک فیصل مرحوم په څیر د اسلامی ملکونو نیکو او هوښیارو مشرانو ددغی غونډی بنسټ په هوښیاری سره په داسی فکر ایښی و د ملګرو ملتونو د موسسی د ننی حالت وړاندی لید (پیش بینی) لا پخوا کړی وه چی دغه موسسه به یو وخت د بین المللی عدالت او بی پلوی په ځای د زورورو کفری هیوادونو د لاس آله وی ، د مسلمانانو د غم خوړلو مرجع به نه وی بلکی د ملګرو ملتونو په وسیله به کفار مسلمانان ټکوی : نن سبا وینو چی د هغو هوښیارانو لوی لید په رښتیا و هغه څه چی دوی یی فکر او پیش بینی کړی وه د ملګرو ملتونو موسسه هماغه شی وختله ، د مسلمانانو له بده قسمته نن په اسلامی ملکونو کی هغسی خواخوږی هوښیار ، د واک او قدرت خاوندان نشته دی!

اسلامی کانفرانس به د اسلامی هیوادونو د حال څیړلو لپاره په عادی غونډو بر سیره په بدو حالاتو کی بیړنی او فوق العاده غونډی رابللی او اغیزمنی پریکړی به یی کولی ، کفری هیوادونو به هم په درنه سترګه ورته کتل ځکه چی اسلامی کانفرانس په هغه وخت کی د کفارو په وړاندی هر اړخیز او پوره وزن درلود!

هغه وخت چی شوروی په افغانستان ناروا تیری وکړ نو اسلامی کانفرانس ، په غالب ګومان- په تونس کی فوق العاده غونډه را وبلله او دغه ناروا تیری یی وغانده ، له شوروی نه یی د فوځونو ایستلو کلکه غوښتنه وکړه له هغه وروسته یی نوری اغیزمنی غونډی او کلکی ، ورته پریکړی پسی وکړی! د هغو پریکړو لوبه اغیزه دا وه چی د ملګرو ملتونو د امنیت شورای هم فوق العاده او عادی غونډی وکړی او اغیزمنی پریکړی یی په غټ ډیربښت (اکثریت) سره تصویب کړی د شوروی تیری یی وغانده او له افغانستان نه یی د پوځونو د چټک ایستلو غوښتنی په کلکه سره په وار وا رور څخه وکړی نن سبا چی په اسلامی نړی کی تر ټولو لویه ستونزه او غمیزه د چیچنیا په خپلواک اسلامی هیواد باندی د روسانو ناروا پوځی تیری دوام لری او لکه چی د شوروی پوځونو او د دوی کمونستو افغانی چوپړیانو په مسلمانانو افغانانو داسی ظلمونه کول چی تاریخ یی ساری او مثال په یادنه درلود نن سبا هو به هو روسی تیری کوونکی او ظالم پوځونه هغه ظلمونه په چیچینایی مسلمانانو کوی ، قتلونه کوی ، عزتونه ، کورونه او مالونه لوټوی او هر څه چی غواړی هغه کوی!

د کفری نړی د بشری حقونو دعوه کوونکی خو چوپ دی یا ډیر لږ غږ پورته کوی امریکه په خوله وایی چی روس دی جګړه ودروی او د خبرو اترو لاره دی ونیسی خو ورسره دا هم وایی چی دغه مسئله د روس کورنی مسئله ده او راشه درشه ورسره کوی! امریکی به د یلتسین هغه خبره هیره کړی وی چی د چین په سفر کی یی له استعفا نه څه موده مخکی وکړه چی « امریکه دی پوه شی چی روسیه یو ستر او پیاوړی ځواک دی » موږ وایو چی امریکه نن سبا له روسیی سره هر راز مرستی کوی خو دا خبره دی په یاد وساتی چی که پوتین واک ته ورسیږی نو دی د KGB پوخ اوروزل شوی غړی دی ، د شوروی د غزیدلی امپراتوری خیال یی په ماغزو کی دی نو ځکه یی تر هر څه د مخه له شمالی کوریا سره د ستی تړون له سره نوی کړ ، دی به په ټول وس هڅه وکړی چی اوسنی روسیه پخوانی شوروی اتحاد جوړ کړی ، بیا به امریکه په خپلو کړو پښیمانه وی او څه به په لاس نه ورځی ،

اوس به راشو د اسلامی ملکونو مرګونی حالت ته چی د چیچنیا د مظلومو مسلمانانو ننداره څرنګه په پټه خوله اولوڅو سترګو کوی او نه غواړی چی کافران خپه کړی ، پخوا چی اسلامی کانفرانس ژوندی و په داسی حالاتو کی به یی بیړنی غونډه رابلل وه اوس چی هغه وفات شوی دی چوپه چوپتیا ده ، یا حسرة علی العباد !

که د چیچنیا په مسلمانانو یی خوا نه بدیږی په خپل ځان دی خوا بده کړی چی بوه ورځ به ددغسی ناروا تاړا کونو وار وور رسیږی!

نن سبا چی اسلامی کانفرانس په سیاسی مرګ مړ بولو له دی امله چی د مشری واربی داسی چاته رسیدلی دی چی هغه له ځانه پرته نور څوک نه وینی ، هغه له روسیی سره د ذروی توکو او پر مخ تللیو پوځی وسایلو د سوداګری په نیشه کی ډوب دی د اسلام او مسلمانانو هیڅ پروا هم نه کوی.

همچنان در فکر آن بیتم که گفت
فیل بانی بر لب دریای نیل
زیر پایت گربدانی حال مور
همچو حال تست زیر پای فیل

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press